واحد فقیري ۲۰۱۸/۱۰/۳۰

# ولي د امریکا مشرانو ابدي او ناکامو جنګونو ته مخه کړې ده؟
# ولي امریکایان چوپ دي؟

ښاغلی ویلیم استور د امریکا د هوايي قواوو متقاعد ډګروال دئ، او اوس د تاریخ پروفیسور دئ. ښاغلی استور د اکتوبر پر ۲۶ په اشیا ټایمز کې لیکي: په افغانستان کې د امریکا جنګ ۱۸ کلن سو، او په عراق کې ۱۶ کلن سو. په عین زمان کې په یمن، سوریې، سومالیا، نیجیر، او نورو افریقایي هیوادونو کې د امریکا بې پایانه جنګونه دوام لري. بده لا دا چې ترمپ غواړي چې د ایران سره هم جنګ شروع کړي.

امریکایان باید راوېښ سي، او دا مهم سوال مطرح کړي چې ولي امریکائي مشران د جهان په ګوټ ګوټ کې د جنګ په نیت وتلي دي؟

حقیقت دا دئ چې د امریکایي مشرانو لپاره د دایمي جنګونو د جوړولو ستر محرکونه «اقتصادي ګټې او قدرت» دئ. د تلپاته جنګونو بل فرهنګي عامل دا دئ چې جنګ د امریکایانو په ځته کې اخښل سوی دئ. جنګ یوه داسي قوه ده چې د امریکایانو ژوند ته هدف او معنی ورکوي.

په تاریخي لحاظ، موږ امریکایان خشن او جګړه خلک یو. تشدد او مرګ ژوبله مو خوښیږي. موږ مدام غواړو چې خلک زموږ څخه یو خشن او زیړ تصور ولري. همدا علت دئ چې موږ خپلو عسکرو ته د «سلحشور او جنګيالي» خطاب کوو،نه د عسکرو. زموږ د موټرانو پر شا لیکل سوي وي،«خدای، توپک، او شجاعت امریکا آزاده ساتلي ده.» نو لهذا، د جهان د آزادولو لپاره باید همدا درې واړه صادر کړو.

له پورتنو دلایلو سره سیاسي اعتبار، نوم او نښان هم ور اضافه کړئ. د امریکا هیڅ جمهور رئیس نه غواړي چې کمزوری ښکاره سي، او پدې تېرو څو لسیزو کې له یو جنګه راوتل د یوه جمهور رئیس لپاره د کمزورتیا او ضعف تعریف دئ. همدا وجه ده چې جمهور رئیس ترمپ نه غواړي چې د امریکا په تاریخ کې پدې شهرت پدی کړي چې افغانستان او عراق ئې «بایلود.» دا خبره د ویتنام د جنګ په برخه کې د جمهور رئیسانو جانسن او نیکسن په اړه صدق کوي. نو لهذا پدې پېرۍ کې د انتخاباتو د بایلودلو ډار زموږ هیواد په ناتمامه جنګونو کې را ایسار کړی دئ. امریکائي جنرالان هم له ماتي څخه کرکه لري. له شکستونو څخه همدا ډار هغوی دېته مجبور وي چې ابدي جنګونو ته ادامه ورکړي.

د واشنګټن ژورو خیالبافیو همدا درواغجن درک لا غښتلی کړی دئ، او د ابدي جنګونو سبب ګرځېدلی دئ. زموږ سیاسیون عموماً زموږ عسکرو ته د «آزادۍ د جنګیالیو» خطاب کوي. جورج بوش د یموکراسی او ښه ژوند د خورولو تر عنوان لاندي خونړي جنګونه پیل کړل. خو وروسته موږ پدې پوهه سو چې دا ډول جنګونه د تروریزم په خورولو کي لا مرسته وکړه.

په عین زمان کې، زموږ سیاسي او نظامي مشران موږ ته د همدې بې انجامه جنګونو په اړه غلط تصویر وړاندي کوي. هغوی موږ ته وايي چې زموږ وسلې «سمارټ او هوښیاري» دي، او د تروریزم د سرطان دقیقه جراحي کوي، په تېره بیا د اسلامي افراطیت. خو واقعیت دا دئ چې همدا په اصطلاح «سمارټ او زرنګ» بمونه بېخي کم عقله دي. د عامي وژني باعث ګرځي، او په جهان کې د بې دفاع خلکو د بېځایه کېدو سبب ګرځي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زمونږ د مشرانو د دغو درواجنو ادعاوو بل اړخ دا دئ چي هغوی موږ ته وايي چي همدا سرسام آوره نظامي مصارف زمونږ د ښې او روښانه آينده لپاره سرمايه ګذاري ده. موږ ته ويل کيږي چي د دفاع وزارت د امريکا بانک دئ. موږ ته ويل کيږي چي په نظامي برخه کي پانګونه نوي کارونه خلقوي، د امريکا د اقتصادي رقابت ژبه لا تېره ساتي، او راته وايي چي جنګ د امريکا اساسي بزنس دئ. (ښايي هغوی رشتيا وايي!)

دغه راز، هغه امريکائي سياستوال چي خارجي جنګونه ته لمن وهي، هغوی تل زمونږ هيروګان وي. فقيد سناتور جان مکېن د همدي خلکو له جملي څخه وو. د هغه پر مرګ زمونږ نظامي کمپينو زياتي اوښکي توی کړی.

بلخوا، زمونږ اردو په زياتېدونکي توګه محافظه کاره کيږي، د يوه تحقيق پر اساس ۶۴ ٪ امريکائي افسران ځانونه جمهوري پال تلقي کوي، او يوازي ۸ ٪ فيصده افسران ځان ديموکرات بولي. زمونږ د فوج عالي رتبه جنرال قريب ۹۰ ٪ فيصده جمهوري پال دي. موږ لګيا يو د شوروي اتحاد غونډي يو فوج ايجادوو، مانا دا چي که چيري تاسي محافظه کاره نه ياست، تاسي په اردو کي د پرمختګ چانس نه لرئ. لنده دا چي زمونږ اردو په زياتېدونکي توګه سياسي او محافظه کاره کيږي. موږ پخپله اردو کي سياسي تنوع خفه کوو.

بل پلو، زمونږ جامعه په زياتېدونکي توګه نظامي سوي ده، خو ځوان امريکايان په اردو کي ځانونه نه شاملوي. زمونږ مشران همدي فوج ته «زمونږ د نسل بهترين استازي» خطاب کوي. د اردو لپاره د امريکايانو همدا تعريف او تمجيد درواغجن دئ، ځکه امريکائي ځوانان په فوج کي د پخوا په شان ځانونه نه شاملوي.

د دفاع وزارت مدام هڅه کوي چي زمونږ عسکران د هيرګانو په نامه ياد سي، دا ځکه چي پنټګان غواړي چي د هر راز انتقاد څخه ځان بچ کړي، او نه غواړي چي د هغو جنګونو په اړه حساب او کتاب ته حاضر سي چي واقعاً په تاريخي ماتو بدل سوي دي.

له بده مرغه نن سبا، امريکايانو د فوج سره ډيره فاصله پيدا کړې ده، خو په حال کي زيات احترام ورته لري. موږ تل خپل پوځ ته چکچکي کوو. د عامه افکارو سروې ښيي چي د امريکا اردو تر جمهوري رياست، تر کانګرس، تر ستري محکمي، او تر ميډيا زيات معتبره او د باور وړ موسسه ده. مګر حق دا دئ چي موږ بايد دا ابدي جنګونو ته چکچکي و نه کړو، بلکي بايد حساب او کتاب ورسره وکړو.

موږ دا بايد په ياد ولرو چي د امريکا د دفاع وزارت په ويتنام، عراق، او افغانستان کي بری نه دئ تر لاسه کړئ، بلکي دننه په متحده ايالاتو کي کامياب سوی دئ. پنټګان موږ پدې قانع کړي يو چي بې حسابه پيسي ور پمپ کړو، او هغوی پدې وتوانوو چي بې پايانه جنګونو ته کش ور کړي.

زمونږ جمهور رئيسان تل کوښښ کوي چي جنرالان ئې حمايت وکړي، د جنرالانو د برکت لاس ئې پر سر غوړېدلی وي.

څه موده پخوا، ما د خپل ايالت سناتوري ته د شکايت يو ليک ورواستاوه. پدې ليک ما د ابدي جنګونو په اړه شکايت کړی وو. زما د سناتوري جواب دا وو: «زمونږ امريکائي عسکر سرسخته، سمارټ، او بهادر دي. هغوی زمونږ د حفاظت لپاره ستري قرباني ورکوي. موږ د هغوی د احسان پوروړي يو، او بايد د هغوی خدمت ته په درنه سترګه وګورو.»

د امريکا د يوه متقاعد افسر په توګه، زما د سناتوري جواب ما ته د راحت او فخر احساس راکړ، خو زما د ليک هدف د چکچکو تر لاسه کول نه ول. زما سناتوري علاوه کړي ول،«زه د تروريزم پر ضد د خپلو پوځيانو د عملياتو حمايت کوم. ځکه دا عمليات محددو او هدفمن دي، او اساسي مطلب ئې د هغو افراطيانو محوه کول دي چي د امريکا ملي امنيت ته ئې خطر مواجه کړی دئ. پدې دوښمنانو کي القاعده، داعش، نور محلي تروروستان،او په وطن کي دننه دهشت ګران شامل دي.»

په آخر کي، زما سناتوري راته ليکي ول،«زمونږ خارجي پاليسي بايد سمارټ، خشنه، او پراګماتيکه وي. موږ بايد د خپلو ټولو امکاناتو څخه د خپلو ملي ګټو د ساتلو په غرض استفاده وکړو. ځکه غښتلي ډيپلوماسي بايد قوي اردو تر شا ولري.»

د دې جواب تر لوست وروسته به تاسو دا ګومان کړی وي چي ښايي زما سناتور يو پنډ، غټ، سپين جمهوريپال وي، خو داسي نه ده. زما سناتوره ميرمن وارن ده، او هغه يوه مترقي ديموکراته ګڼل کيږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

که څه هم پر ما سناتور وارن ګرانه ده، او د هغې د کمپین سره مې مالي مرسته کړې ده. خو لدې سره سره د هغې په جواب کې د امریکا د ابدي جنګونو په باره کې کوم انتقاد نه وو. نه هم هغې د پنتاګون سرسام آوره مصارفو او ضایعاتو ته کومه اشاره کړې ده. البته دا باید ووایم چې د امریکا محافظه کاران سناتور وران یوه سوسیالیسته ګڼي، او وایي چې د هغې هدف د امریکا تباه کول دي.

اساسي خبره دا ده چې د متحده ایالاتو اردو په افغانستان او عراق کې ناکامه سوې ده، مګر زموږ فوج په امریکا کې ستر موفقیت تر لاسه کړی دئ. تاسي یو ځل د پنتاګون کلنی بودجه وګورئ.

که تاسي دا سوال مطرح کړئ چې ولې موږ دا جنګونه بایلو؟ جواب به دا وي چې موږ د خپل فوج سره حساب او کتاب نه کوو. بلخوا، موږ خپل فوج ته د پانګوني په سترګه ګورو. پنتاګان موږ ته د خارجي جنګونو په اړه خاص درک او برداشت راپېچکاري کوي، هغوی زموږ افکارو ته شکل راکوي. که چیري موږ پر فوج باندي انتقاد وکړو، هغوی سمدستي موږ د شکست په پلویتوب تورنوي، او راته وایي چې تاسي د جنګ خلګ نه یاست، بلکي تاسي یوازي مات او زبون خلګ یاست.

واقعیت دا دئ چې زموږ امریکائي عسکر په خپلو زوړنو کي پدې قانع دئ چې هغوی پر سمه لاره روان دي. مګر هغه اشتباهات چې هغوی مرتکب سوي دي،او یا په مستقبل کي مرتکب کیږي، دا اشتباهات به تر هغه وخته پوري اصلاح نه سي تر څو موږ امریکایان راوېښ نه سو، او همدا اوسنی حاکم میلیتریزم او د نظامي ګري جنون رد نه کړو، د رواني نظامي ګري په مقابل کي موقف غوره نه کړو، او د ابدي جنګونو سره خپل مخالفت په ډاګه اعلام نه کړو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ